

# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

آبادي اوونیزه
هفته نامه آبادی

ګڼه: ۱۴ | مسلسل نمبر: ۵۶

شنبه، د محرم الحرام ۷ مه، ۱۴۴۶ هـ. ق کال


## طرح تولید برق خورشیدی در پارک های صنعتی حصار شاهی و شیخ مصری ننگرهار مورد تایید قرار گرفت



۲ صفحه

## ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا پنځه میلیارده افغانیو په ارزښت مختلفې پروژې منظورې کړې



۲ مه صفحه

## سخنرانی معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسم بزرگداشت از روز ملی صادرات



۴ مه صفحه



## سرلیکنه

د صادراتو ملي ورځ د روان ۱۴۰۳لمریز کال د چنګاښ په ۲۱مه نېټه د یو لړ مراسمو په ترځ کې ونمانځل شوه. په دې مراسمو کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او د اسلامي امارت یو شمیر نورو لوړ پوړو مسوولینو ګډون کړی وو. دغو مراسمو ته د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د صادراتو ملي ورځې د نمانځنې په مناسبت د جوړې شوې غونډې هرکلی وکړ او ویې ویل، ټول هېوادونه اړ دي چې د خپلو نسبي اړتیاوو د پوره کولو په موخه د صادراتو او وارداتو پر اساس له یو بل سره تجارتي اړیکې وپالي او هغه هېوادونه چې د صادراتو اندازه یې زیاته وي، کورنی تولید یې پرمختګ کوي او د اقتصادي ودې جریان یې ګړندی کېږي.

افغانستان د یو شمبر ګاونډیو هېوادونو د توکو او اجناسو پر مهم استهلاکي بازار بدل شوی و. لامل یې په افغانستان کې د یوه مرکزي حکومت نشتوالی، اوږدمهاله جګړې او یرغلونه وو چې له امله یې د هېواد زېربناوې له منځه ولاړې، د کورنیو تولیداتو کچه راټیټه او د هېواد اقتصاد تر ډېره بریده په سوداګرۍ متکي شو. د اسلامي امارت تر بیا واکمنېدو وروسته سره له دې چې د نړۍ له لوري ځینې بندیزونه ولګېدل او له امله یې د افغانستان بانکي سیستم ټکنی او سوداګري زیانمنه شوه؛ خو بیا هم د اسلامي امارت مسوولینو سوداګرۍ ته چې د هېواد د اقتصادي څرخ اصلي محرک بلل کېږي، پوره پاملرنه وکړه. موخه یې دا وه چې د سوداګرۍ په پراختیا سره کولای شي د صادراتو کچه لوړه کړي او پر مټ یې لوېدلی اقتصاد ورغوي.

دا چې سوداګرۍ د کومو دلایلو له مخې پرمختګ کړی دی او د صادراتو کچه لوړه شوې ده. دلیل یې واضح او څرګند دی هغه دا چې د اسلامي امارت له راتګ وروسته که څېرې د افغانستان د صادراتو پرتلیزې شمېرې وګورو؛ نو دا به راته جوته شي چې اسلامي امارت په خپل بهرني سوداګریز سیاست کې بریالی شوی، سیمه‌ییز باور یې پیاوړی کړی، خپلواکې او عادلانه سوداګریزې اړیکې یې جوړې کړې دي. ددې ترڅنګ یې سوداګرو ته اسانتیاوې برابرې کړې، د پلازمېنې په ګډون یې په زیاترو ولایتونو کې د صنعت او سوداګرۍ خونې فعالې کړې، لویې لارې او ریل پټلۍ چې د سوداګرۍ په پراختیا کې مهمه ونډه لري، د رغونې چارې یې پیل شوې، ګمرکي خدمات یې ۲۴ ساعته کړي او په ګمرکونو کې یې د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه د سکنرونو نصبولو ته مخه کړې ده او تر ټولو مهمه دا چې په دې سکتور کې یې کورنۍ او بهرنۍ پانګونه راجلب کړې ده.

د صادراتو د ملي ورځې نمانځل او د یو شمبر سوداګرو ستایل به د سوداګرۍ برخه نوره هم پیاوړې او غښتلې کړي. د کابل په ګډون د هېواد په شپږو ولایتونو کې د صادراتو د پروسس زونونو په جوړېدو سره به زموږ په صادراتو کې زیاتوالی راشي او له دې سره به په کور دننه د صنعتي تولیداتو کچه لوړه شي. دا به افغانستان لکه څنګه چې اوس یو وارداتي هېواد دی، په صادراتي هېواد بدل او نور به موږ مصرفي بازار نه بلکې یو صادرونکی هېواد واوسو.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـادي او تـولنیزو مسایلـو په برخـه کـې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
آبادي اوونیزه
هفته نامه آبادی

# طرح تولید برق خورشیدی در پارک های صنعتی حصار شاهی و شـــیخ مصری ننگرهار مورد تایید قرار گرفت

در جلســه نوبتی کمیته سرمایه گـذاری بین الوزارتی که در قصر مرمرین برگزار شــد، راجع به طرح های سرمایه گذاری تولید ۴۰-۴۰ میگاوات برق خورشــیدی در شــهرک های صنعتی حصار شــاهی و شــیخ مصری ننگرهار و تعدادی از طرح های سرمایه گذاری در بخش های دیگر بحث شــد.

پــس از بحث همه جانبــه در کمیته سرمایه گــذاری بین الوزارتی، طرح تولید برق خورشــیدی در پارک های صنعتی حصار شاهی و شیخ مصری ننگرهار مورد تایید دانسته و برای منظوری به کمیسیون اقتصادی ارجاع شد.

در این نشست، طرح ارائه شده از سوی سکتور خصوصی در مورد اعمار نخاس و کشتارگاه های معیاری در ولایت کابل و قندهار نیز مورد بحث و بررســی قرار گرفت. پس از بحث و گفتگوی همه جانبه، به کمیته تعیین شده وظیفه سپرده شد تا جلساتی را با شرکت ارائه دهنده طرح مذکور در مورد مسائل تخنیکی برگزار و گزارش خود را به تاریخ تعیین شده به کمیته سرمایه گذاری بین الوزارتی ارائه نماید.



# ملي تدارکاتو کمېسیون د شاوخوا پنځه ملیارده افغانیو په ارزښت مختلفې پروژې منظورې کړې



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ ملي تدارکاتو کمېســیون د شاوخوا پنځــو ميلياردو افغانیو په ارزښــت د ۱۲ پروژو قراردادونه منظـور او د دربیو هغــو تعدیل کړل. د مــلي تدارکاتو کمېسیون نوبتي غونډې ته چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۷مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شــوې وه، له اجنډا سره ســم ۲۲ پــروژې د بحث لپاره وړاندې شــوې، چې له جملې یې د ۱۲ پروژو قراردادونه منظـور، د دربیو تعدیل او د ۷ پــروژو د قراردادونو په اړه تاکل شوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې په هراړخیز ډول یې وڅېړي او خپل راپور د ملي تدارکاتو کمېسیون له مشرتابه سره شریک کړي.

په منظور شوو او تعدیل شوو پروژو کې د یوشمېر ولایتونو په لړۍ پرتو ســیمو کې د روغتیایــي مرکزونو جوړول، د بادغیس – فاریاب لویې لارې د دوهمې برخې قیر اچونه او د همدې لارې د استنادي دیوالونو جوړول، د هرات د نورالجهاد ســب سټېشن د انســلیټرونو نصب او یوشمېر نورې پروژې شاملې دي، چې مالي تمویل یې د اسلامي امارت له لورې کېږي.

# په ازبیکستان کې د ۱.۱ پلاوي له لوري د نهایي شوو موضوعاتو د تعقیب لپاره ځانګړې کمېټې وټاکل شوې

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شــوې غونــډه کې د اړوندو سکتوري وزارتونو او ادارو د مسوولینو له لوري ازبیکستان ته د اسلامي امارت د اقتصادي پلاوي د سفر پر مهال د نهایي شــوو موضوعاتو د تعقیب لپــاره ځانګړې کمېټې وټاکل شوې.

دغه غونډه چې د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د سرطان میاشتې په ۱۹مه نېټــه په مرمرینه ماڼۍ کې جوړه شــوې وه، د افغانستان او ازبیکستان ترمنځ د دوه اړخیزو سوداګریزو او ترانزیتي اړیکــو د پراختیــا، د دواړو هېوادونو تر منځ د ســوداګرۍ پر متوازن بیلانس، د باروړونکــو موټرونو د شــمېر پر زیاتوالي، د حیرتان بندر پر ۲۴ ساعته کولو، د ګډې سوداګریزې خونې د جوړېدو، په ترمذ کې د افغان – ازبیک ګډ ســوداګریز مرکز څخه پر اســتفادې، د دواړو

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنيزو مسايلــو په برخــه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

آبادي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی



هېوادونــو ترمنځ د قرنطين اړونــدو هوکړه‌ليکونو د نهايي کولو، د اوســپنې، مســو او ډبرو ســکرو په کانونو کې د ازبيک پانګوالو د پانګونې، په افغانستان کې د سيمنټو توليدي کارخونې د جوړېدو، د ترمذ- مزارشريف تر هرات او کندهار پورې د اوســپنې پټلۍ شــبکې غځولو کې د ازبيکستان د همکارۍ، د نايب آباد سټېشن پر پراختيا، د سورخان- پلخمرۍ د برېښنا لېږد په برخه کې د ازبيکستان پر پانګونې او يوشــمېر نورو موضوعاتو په اړه ټاکل شوو کمېټو ته دندې وســپارل شــوې، څو ياد موضوعات په جدي ډول تعقيــب او په ټاکلو وختونو خپــل راپورونه د رياســت‌الوزراء اقتصادي معاونيت لــه محترم مقام سره شريک کړي.

## د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال:

# د کابل په ګډون د هېواد په شپږو ولايتونو کې د صادراتو د پروسس زونونه جوړېږي

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۳ لمريز کال سرطان مياشتې په ۲۱مه نېټه د صادراتو ملي ورځې په نمانځغونډه کې ګډون وکړ.

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرســتيال په همدې مناسبت جوړو شوو مراســمو ته وويل، ټول هېوادونه اړ دي چې د خپلو نسبي اړتياوو د تأمين په موخه د صادراتو او وارداتو پر اساس له يو بل سره تجارتي اړيکې وپالي او هغه هېوادونه چــې د صادراتو اندازه يــې زياته وي، کورنــی توليد يې پرمختګ کــوي او د اقتصــادي ودې جريان يې ګړندی کېږي. محترم ملا صاحب زياته کړه، اســلامي امارت د صادرات محوره اقتصادي پاليســۍ له مخې د هېواد ټولو صــادراتي شرکتونو تــه ډاډ ورکوي چې د افغانســتان د صادراتــو کچه به لوړېــږي او ټول مــازاد توليدات به په مناسبه تجارتي توګه نورو هېوادونو ته صادرېږي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند وويل، په همدې موخه د عاليقدر اميرالمؤمنين شــيخ صاحــب حفظه الله د حکم پر اساس له نړيوالو معيارونو سره سم د کابل په ګډون د




هېواد په شــپږو ولايتونو کې د صادراتو د پروسس زونونه جوړېږي، چــې د ځمکې د انتقــال او ملکيت چارې يې بشــپړې شــوې او په نږدې راتلونکې کې به د صادراتو د معياري کولو لپاره ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

د رياســت‌الوزراء اقتصادي مرستيال د صادراتو پروسې ته په اشــارې سره وويل، اوســمهال د هېواد له ۱۳ ولايتونو څخه د نــړۍ هېوادونو تــه صادرات تــرسره کېږي چې اسلامي امارت په دغو ولايتونو کې د صادراتي پروسې د تســهيل او تسريع لپاره دفترونه جوړ کړي چې د څو ورځو کار په ډېر کم وخت کې ترسره کوي. د محترم ملا صاحب په خبره، اســلامي امارت د افغانستان صادراتي توکو ته د ســيمې او نړۍ هېوادونو کې د بالقوه او بديلو بازارونو د موندلــو هڅــې پيل کــړې دي، له هغــوی څخه د ترجيحي تعرفې غوښــتنه شــوې او په دغــه برخه کې پرمختګونه هم ترسره شوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ټولو صادرونکو

سوداګرو څخه وغوښتل چې د هېواد د حیثیت په نظر کې نیولو سره پر نړیوالو معیارونو برابر صادرات وکړي او متوجې و اوسي چې په دغه حساسه پروسه کې د هېواد رقیبان زمږ د صادراتو د تضعیف هڅه ونه کړي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، ملي سوداګر باید د اسلامي امارت د اقتصادي پالیسۍ په نظر کې نیولو سره د خامو موادو د صادراتو پر ځای پاخه شوي تولیدي توکي صادر کړي؛ ځکه په خبره یې، په کور دننه د خامو موادو په پروسس سره نوي کارخونو ته د فعالیت زمینه برابرېږي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د صادراتو ملي ورځې نمانځغونډې ته وویل، اسلامي امارت نړۍ ته د شفافو، باکیفیته او دایمي صادراتو په موخه د هېواد د ټولو بندرونو د معیاري کولو په اړه له نړیوالو معتبرو شرکتونو سره په خبرو بوخت دی چې دا چاره به د هېواد د صادراتو پر کیفیت او کمیت د پام وړ مثبت اغېز ولري.

نړۍ ته د شفافو او دایمي صادراتو د ترسره کولو په موخه محترم ملا صاحب له ټولو امنیتي ارګانونو وغوښتل چې په صادراتو کې د قاچاق مخنیوی وکړي او داسې کسانو ته جدي سزا ورکړي او پرې نږدي چې د اسلامي امارت او سوداګرو هڅو ته زیان ورسوي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند له ملي سوداګرو وغوښتل چې د نړیوالو معیارونو په نظر کې نیولو سره سرې خونې جوړې کړي، څو د تولیدي توکو او کرنیزو محصولاتو د خرابېدو مخنیوی وشي.

# سخنرانی معاون اقتصادی ریاست الوزراء در مراسم بزرگداشت از روز ملی صادرات



الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی، اما بعد!

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم،

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی: الشیطان یعدکم الفقر و یأمرکم بالفحشاء، والله یعدکم مغفرة منه و فضلا

به مسؤلین امارت اسلامی، تجاران، سرمایه گذاران، صنعتگران، نمایندگان رسانه ها و همه مهمانان حاضر در تالار!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

این یک واقعیت مبرم است که برای رفع نیازهای نسبی کشورها، همه کشورهای جهان ملزم به حفظ مناسبات و روابط تجارتی هستند. این مناسبات و روابط با صادرات و واردات کالاها و اموال تولیدی ایجاد می شود. هر قدر صادرات یک کشور افزایش یابد، بـه همان اندازه تولید داخلی کشور رشد می کند، سطح سرمایه گذاری بالا میرود و جریان رشد اقتصادی تسریع می شود.

این اقدام بسیار مهمی است که بر اساس تصمیم کابینه امارت اسلامی افغانستان، روز ملی صادرات هر سال برای تشویق سرمایه گذاران و صادرات کشور تجلیل می شود. خوشحالم که وزارت صنعت و تجارت در تجلیل از روز ملی صـادرات به صادر کنندگان برتر سـال هدیـه اعطا می نمایند. مطمئنم با این کار سرمایه گذاران و تجار کشور تشویق می شوند و بیشتر به فعالیت هایشان متوجه می شوند. بر اساس پالیسی اقتصادی صادرات محور، امارت اسلامی افغانستان به تمامی شرکت های صادراتی کشور اطمینان می دهد که سطح صـادرات افزایش و تمامی محصولات مازاد به کشورهای دیگر صادر خواهند شد.

جـا دارد که به همه هموطنان و سرمایه گذاران نوید دهم که بر اسـاس فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین شـیخ صاحب حفظه الله، به شمول کابل در شش ولایت کشور مطابق با معیارهای بین المللـی زون های صادراتی ایجاد خواهد شـد که برای هر زون ۱۰۰ جریـب زمین در نظر گرفته شـده و خوشـبختانه انتقال و مالکیت زمیـن به پایان رسیده که ان شـاءالله در آینده نزدیک این زون ها برای معیاری سازی صادرات کشور آماده بهره برداری می شوند. خوشـبختانه در حال حاضر اقلام صادراتی از ۱۳ ولایت کشور به جهان صادر می شود که برای تسهیل و تسریع در صادرات دفاتر پروسـس اسـناد صادراتی در ولایات مذکور ایجاد شـده است و کار اداری ۴ روزه در ۴۰ دقیقه انجام می شود. امارت اسلامی افغانستان در تلاش است تـا بازار های بالقوه و بدیل بـرای اقلام صادراتی خود در کشـور های منطقه و جهـان بیابد که در این راسـتا در خواست هایی از سوی کشور ها برای تعرفه ترجیحی وجود داشته و تا حدود زیادی در این برنامه ها موفق شده ایم.

از همه صادرکننـدگان تقاضا دارم تا بـا توجه به حیثیت کشـور طبق معیار های جهانی صادرات داشـته و بسیار متوجه باشند در این پروسه حساس رقبای کشور نباید سعی کنند اقلام صادراتی تجارتی ما را تضعیف نمایند.

از تجاران محترم تقاضا دارم با توجه به سیاست اقتصاد

محور امارت اسلامی به جای صادرات مواد خام، محصولات تولیدی را به کشورهای دیگر صادر کنند. زیرا پروسس مواد خام در داخل کشور از یک سو باعث ایجاد کارخانه های جدید می شود و از سوی دیگر ارزش زنجیره ای ایجاد می کند.

برخی از حلقه ها برای اینکه صادرات ما را بدنام کنند در صدد عبور اموال قاچاق هستند. من از ارگان های امنیتی می خواهم که این افراد را به شدت مجازات و اجازه ندهد تا این افراد به کشور و تلاش های تجارتی ما آسیب رساند. امارت اسلامی به منظور صادرات و واردات شفاف و اطمینان بخش جهانی در حال نصب اسکنرهای معیاری و پیشرفته در تمامی بنادر است که بر سطح و اعتماد صادرات تاثیر بسزایی خواهد داشت ان شاءالله.

امارت اسلامی در حال مذاکره با شرکت های معتبر بین المللی به منظور معیاری سازی گمرکات و صادرات ارزنده و مطمئن است. این اقدام همچنین تاثیر مثبت قابل توجهی بر کیفیت و کمیت صادرات ما خواهد داشت.

خوشبختانه روابط اقتصادی، تجارتی و سیاسی امارت اسلامی با کشورهای منطقه و بین المللی رونق یافته، مذاکرات مفیدی در رابطه به تجارت، صادرات، تسهیلات گمرکی و مسائل مهم سرمایه گذاری با آنها انجام شده است که این نه تنها تأثیر مثبتی بر رشد تجارت ما خواهد داشت، بلکه وابستگی صادراتی ما را به کشورهای خاص کاهش می دهد و اقلام صادراتی افغانستان به بازارهای بدیل راه خواهند یافت ان شاءالله.

در پایان از تجاران محترم کشور می خواهم در کشور بر اساس معیارهای جهانی در بخش احداث سردخانه اقدام نمایند تا کشور و مردم را از یک ضرر بزرگ در این زمینه نجات دهد.

امارت اسلامی افغانستان در کنار سرمایه گذاران و تجاران خود ایستاده و به شما اطمینان می دهم که به همه مشکلات شما رسیدگی خواهد شد ان شاءالله.

# Speech of the Deputy Prime Minister for Economic Affairs on the Occasion of National Export Day



"In the name of Allah, the Most Gracious, the Most Merciful.

Respected officials of the Islamic Emirate, traders, investors, industrialists, media representatives, and all the distinguished guests present in the hall, peace and blessings be upon you.

It is a fact that to fulfill their relative needs, all countries in the world must maintain trade relations and engagements. These relations and engagements are established based on the export and import of produced goods and commodities. The more a country's exports increase, the more its domestic production grows, the level of investment rises, and overall economic growth accelerates.

Given the decision of the cabinet of the Islamic Emirate of Afghanistan to celebrate National Export Day annually to encourage investors and the country's exports, this is a very significant step. I am pleased that today, in the ceremony of celebrating National Export Day, the Ministry of Industry and Commerce is awarding the top exporters of the year. I am confident that this will motivate the country's investors and traders to focus even more on their activities. According to the export-oriented economic policies of the Islamic Emirate of Afghanistan, all export companies in the country are assured that the level of exports will increase, and all surplus production will be exported to other countries in a proper trade manner.

It is worth noting to all the residents and investors of the country that, based on the decree of the esteemed Amir al-Mu'minin Sheikh Hibatullah

Akhundzada, export processing zones are being established in six provinces of the country, including Kabul, according to international standards. Each zone has been allocated one hundred jeribs of land, and fortunately, the transfer and ownership of the land have been completed. Insha'Allah, they will soon be ready for use to standardize the country's exports.

Fortunately, currently, exportable goods are being transported from 13 provinces of the country to the world. In these provinces, offices for processing export documents have been established to facilitate and expedite exports, reducing a four-day bureaucratic process to 40 minutes.

The Islamic Emirate of Afghanistan is striving to find potential and alternative markets for its exportable goods in the region and worldwide. Requests for preferential tariffs have been made to countries, and we have been largely successful in these initiatives.

I urge all exporting traders to ensure that their exports meet international standards, considering the country's reputation. Be vigilant to ensure that our competitors do not weaken our commercial exports in this sensitive process. I also request that, following the economic policies of the Islamic Emirate of Afghanistan, raw materials should not be exported but instead, finished products should be sent to other countries. Processing raw materials domestically leads to the establishment of new factories and job creation, and it creates a value chain.

Some circles are trying to discredit our exports by smuggling goods. I urge the security agencies to punish such individuals severely and prevent any harm to the efforts of our country and traders. To ensure transparent and reliable exports and imports, the Islamic Emirate is installing standard and advanced scanners at all ports, which will significantly impact the volume and trust in our exports, Insha'Allah.

The Islamic Emirate is engaged in discussions with reputable international companies to standardize customs and ensure valuable and credible exports. This will have a significant positive impact on the quality and quantity of our exports.

Fortunately, the economic, trade, and political relations of the Islamic Emirate with regional and international countries have flourished. Useful discussions have been held regarding trade, exports, customs facilities, and investment issues. This will positively impact our trade with them and reduce our export dependence on specific countries, providing alternative markets for Afghan products, Insha'Allah.

Finally, I call on the honorable traders of the country to establish cold storage facilities according to international standards, saving the country and its people from significant losses in this area.

The Islamic Emirate of Afghanistan stands shoulder to shoulder with its investors and traders, as always, and I assure you that all your problems will be addressed, Insha'Allah."

# د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۰,۷۳؋ | ۷۰,۷۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲٤٥ | ۲٤٥؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۱,۲۸؋ | ۱,۲۸؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۷۷,۲٤؋ | ۷۷,۲٦؋ |
| ۱ | روسی روبل | ۰,۸۱؋ | ۰,۸۱؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸٤۷؋ | ۸٤۷؋ |
| ۱ | انگليسي پونډ | ۸۹,۸٤؋ | ۸۹,۸٦؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸,۸٦؋ | ۱۸,۸٦؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹,۲٦؋ | ۱۹,۲٦؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹,۷٦؋ | ۹,۷٦؋ |

